داکتر سراج الدین ملتمل ۲۰۱۸/۱۰/۲۰

# د افغانانو دوه نا پیژندل شوي خطرناک دښمنان وپژنئ!

د افغانستان د جنګونو د شروع او ادامي ستر عاملین څلور دي. چي پدی کی دوه یی په ارادی توګه او د خپلو ګټو لپاره د جنګ د پیلامي، عاملین او دوه نور یی بیا په غیر ارادی توګه د جنګ د ادامي عاملین یا د جنګ په وړاندی د مقابلي ماتونکي عاملین دي. تر اوسه افغانان یواځی هغه اول دوه ډلي پیژني، لاکن د دی دوو نورو خطرناکو ډلو په اړه یا بی خبره دي، او یا هم د دوي په منفي رول اصلاً فکر نه شی کولاي. د دی مقالي عمده هدف دا دی چي دغه وروستي دوه ډلي افغانانو ته په دقیقه توګه ور وپیژني، تر څو تر دی زیات د دوي د خطرناکو خبرو او کړو د توطو ښکار پاته نشی.

د جنګونو د برباو د رازونو په اړه یو چنایی ډیر توانمند او بریالي جنرال ( ) چي د میلاد نه څو زره کاله دمخه یی ډیر فتوحات کړی وه، وایی:

*په جنګونو کی یو تر ټولو مهم اصل د ځان او دښمن پیژندنه ده.*

(که تاسو هم ځان پیژنئ او هم دښمن، نو د جنګ په ټولو دګرونو کې به کامیاب اوسئ. که ځان پیژنئ او دښمن نه پیژنئ، او یا دښمن پیژنئ اما ځان نه پیژني نو د هری کامیابي سره به یوه ناکامي هم ولری. خو که تاسو نه ځان پیژنئ او نه دښمن، نو د جنګ په ټولو ډګرونو کې به ناکام یاست.)

داسی ښکاري چي مونږ افغانان هم د خپل ځان او هم د خپل دښمن په پیژندګلوي کي پاته راغلي یو، نو ځکه دا جنګ په یوه نه ختمیدونکي جنګ بدل شوی دی. نو دا ضروری ده چي مونږ د جنګ د دواړو اړخونو په پیژندلو کی ژور فکر وکړو.

د افغانستان د جګړی د ادامي عامل اړخونه په لاندی ډول خلاصه کیدای شي:

## ■ لمړی: پیژندل شوي د جنګ د پیلامي او ادامي اګاهانه عاملین:

دا د جنګ د شروع او ادامي هغه عاملین دي چي ټول خلک یی پیژني، او د جنګ په اوږدو کی د دوي لاس وهني دومره افراطی مرحلو ته رسیدلي دي چي پټیدل یی نور نا شوني وي. دا عاملین دوه ډوله دی.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

- ۱: د جنګ د شروع او ادامي خارجي عاملين: دا هغه منطقوي او نړيوال هيوادونه دي چي د دوي ګټي په افغانستان کی د جنګ په ادامه کی دي. دوي د خپلو سياسيي، اقتصادی، نظامي اهدافو لپاره جنګ افغانستان ته راوړی او د دی د ادامي لپاره د هر نوعه امکاناتو نه کار اخلي.
- ۲: دوي د دغه جنګ د ادامي لپاره د دوه نوعه ستراتيژيو نه کار اخلي:

❖ يو يی د پيسو او وسلو له لاری د نظامي ډلو مسلح کول او د اسلام او جهاد تر نوم لاندی د جنګ د ادامي لپاره د هغوي استعمالول دي.

❖ بله د مالي، او فکری لحاظه د جنګ په وړاندی د مقاومتونو د ضعيفه کولو ستراتيژی له لاری د يو شمير خلکو تطميع کول، يا په غلطو لارو سر کول دي، تر څو د جنګ اصلي عاملين خلکو ته مغشوش او د خلاصون اصلي لاری له خلکو ورکي کړي. د دی مقالي اصلي هدف د همدغه ډلي پيژندل دي، چي لاندی دوهم ګروپ کي تشريح شوي دي.

## ■ دويم: د جنګ د ادامي داخلي عاملين:

دا هغه نظامي او جنګي ډلي او اشخاص دی چي د خارجي عاملينو په مرسته اول د جنګونو د شروع او بيا يی د جنګونو د ادامي وسيله ګرځيدلی ده. دا ډلي په جنګ کی را روزل کيږی، توانمنده کيږی، او دوي بيا د جنګ په ادامه کی د دومره جناياتو مرتکب کيږي، چي بيله جنګ او وسلي د دوي بقا نا ممکنه وی. نو د دوي د ژوند او ګټو د محفوظيت يواځني لار جنګ، زور، چور او تالان دی. چي پدی ډله کی د افغانستان ټولي جنګي ډلي، غاصبين، قاتلين او چورکوونکي شامل دي. نو که افغانان د دی ډلو د اشخاصو په هغو خبر غوليږی چي يی د سولي لپاره يی کوي، خانونه غولوي. دوي يو هم په سوله کی ژوند نشی کولای، نو د دوي ټولي د سولی خبری او کارونه په واقيعت کی د سولی د مخنيوي لپاره وه او دي. دوي بيا د خپلو دغو شومو اغراضو د پټولو لپاره د قوم، ژبي، مذهب په غلطو شعارونو خپل خلک په خپل ځانونو راټولول غواړی. اما واقيعت دا دی چي نه طالب او نه هم ګلبدين د پښتنو نمايندګي کولای شي او نه د دوي د ګټو نه پلوی کوي، او نه جمعيتيان، دوستميان، عطا، عبدالله او محقق او نور غاصبين د افغانستان د نورو قومونو نمايندګي کولای شی. نو افغانان بايد نور تر دی ساده نشی چي د دوي په مکارانه خبرو وغوليږي. ډيرا بيلکل ثابته ده چي نه هم طالب، نه ګلبدين، نه جمعيت او نه هم دوستم او نه هم د هزارګانو د جنګي ډلو مشران يو هم نه د سولی د راتللو سره کومه مينه او علاقه لری او نهه يی دا کار په ګټه دی. افغانان بايد په قاطعيت سره دوي له خپلو خلکو تجريد او د هر قوم خلک بايد د دوي په وړاندی په نره مقابلي ته راودانګي.

## ■ درييم: په افغانستان کي د جنګ په وړاندی د مقاومت او مبارزی ماتونکي نا پيژندل شوي غير ارادی ډلي:

دا هغه ډلي او خلک دي چي دوي په ارادی توګه نه بلکه په ناپوهي کي او په غير ارادی توګه خلکو ته دښمن او دوست غلط تعريفوی، او يا هم د جنګ په مقابلي کي خلک د اصلي لارو پر ځای په فرعي لارو روانوي. د دی کبله چي دوي هميشه د جنګ په وړاندی شعارونه ورکوي، او خلک د جنګ په وړاندی رابيداروي، نو خلک پدوی باور هم کوي. خو په خواشيني سره همدا خلک بيا اول دښمن غلط تعريفوي، مثلاً طالب ته د مقامت او ازادی د پلوی په

نظر ګوري، او یا هم د جنګ په وړاندی د مقامت او مبارزي اصلي لارو باندی یا نه پوهیږي، او یا هم د پوهي سره سره خلک د اصلي لارو نه په فرعي لارو مصروفوي. دا ډله خلک هم په دوه ډلو ویشلای شو:

- یو: د دښمن غلط تعریفونکي او د مبارزی د اصلي لارو نه پیژندونکي ناپوهه، پوهان:

دا یو شمیر هغه تاریخ لیکونکي، استادان، ډاکتران، او متخصصین دی، چي د جنګ په اړه یی مطبوعات محاصره کړي او د خپلو غلطو منطقونو له لاری خلکو ته دښمن غلط تعریفوي، او یا هم د مبارزی په اصلي او اساسی لارو کي د وندي په نه اخستلو د خلکو باور په هغو اصلي لارو کموي. پدی جمله کی ډیر هغه لیکوالان او سیاسي شنونکي شامل دي چي هغوي د افغانستان په اړه تاریخي مالوماتونه لري، ولی د دی سره سره هم د دښمن په تعریفولو او پیژندلو کی ستونځي لري. مثلاً د دوی یو شمیر لا تر اوسه هم طالبانو ته د فرښتو په نظر ګوري او هغوي ته د (مقاومت) نومونه ورکوي. ځني یی بیا لا تر اوسه هم د مجاهدینو د جنګي ډلو نه د اسلام د مدافعینو په توګه پلوي کوي. دا جنابان د خپلو ټولو زده کړو سره سره په سیاست کی اغییرشوي او د سالم سیاسي تحلیل، او سالم سیاسی قضاوت نه محروم دي، او دوي لا تر اوسه هم اصلی ښمن سم نه پیژندني، او یا د هغي په پیژندنه کی د قومي، ژبنیزه، او نورو فکتورونو تر اغیز لادی دي. افغانان باید د دغو اشخاصو لیکنو او ویناو ته په دقیقه توګه متوجه اوسی او تر دی زیات باید په دوی ونه غولیږي. مثلاً د همدی کسانو یو زیات شمیر لا تر اوسه هم د دی جنګ په وړاندی د مقاومت او مبارزی لاره په غیر سیاسی او غیر تشکیلاتي فورمونو کی لکه د جبهو جوړول، د جرګو دایرول او یا هم د قومي او ژبنیزو په شورا ګانو جوړولو او یا هم انتقالي حوکومتونو په جوړولو کی لټوي. خو په وضاحت سره دا وایم چي دا ټولي هغه غلطي او ناکامه لاري دي چي د افغانستان خلک یی د سیاسی انسجام نه وروسته پاتي ساتلي او غولولي دي. افغانان باید دا درک کړی چي د داسی یوی ژوري استخباراتي جګړی په وړاندی مقاومت او مبارزه بیله یوه منضبط سیاسی تشکیل یا حزب نه ناشوني او نا کامه ده. دا ځکه چي د حزب نه بغیر دا نور ټول ساختارونه د جاسوسي شبکو د نفوذ او اثر په وړاندی د مقاومت نه کوم مؤثر پلان لری او نه هم د هغي په وړاندی مقاومت کولای شی.

افغانانو! که تاسو ته د مقاومت او مبارزی په اړه هر څوک د یوه حزب د جوړیدو نه بله هره لار ښایی، دوي همدومره د وطن او سولي په ضرر دی لکه هغه نوري پورته دوه جنګي ډلي. که تاسو ته هر څوک لا تر اوسه هم طالب، یا حزب اسلامي یا جمعیت یا د دوستم او هزاره جنګي دلو مشران ستاسو د ګټو پلویان در ښایی، دوي تاسو نه اصلي دښمن غلطوي. او که هر څوک د حزب جوړولو په وړاندی یا منفي تبلیغ کوی او یا پکي ونده نه اخلي نو دوي اصلاً ستاسو مبارزه او مقاومت د اصلي مسیر نه په غلط او درواغجن مسیر کی اچوي. دا کسان د خپل وطن د دښمنانو په توګه وپیژني او ورسره هماغه شان مبارزه وکړی، لکه چي د هغه نورو دوو ډلو سره یی کوي.

- ۲: هغه سیاسیون چي لا تر اوسه هم په غلطو پخوانیو سیاسی لارو روان او د یوه توانمند ملي حزب په مقابل

کی نور غلط وړاندیزونه کوي او یا نور متبادل موقفونه اختیاروي. دا ډلي او اشخاص هم د افغانستان په جګړه کی په غیر ارادی توګه د دښمن په ګټه کار کوي. د سیاست یو تعریف دا هم دی چي ( تحلیل مشخص از اوضاع مشخص). د افغانستان اوسني بحران یو ملي بحران دی، د ملي بحران په وخت کی نظریاتي مبارزه شاته وړل کیږی او ملي مبارزه اولیت پیداکوي. د نړی ډیرو بریالي سیاسیونو ټولو دا درک کړي او عملي کړی ده او کامیابه نتایج یی تری تر لاسه

کړی دي.  خو په خواشنيې سره زمونږ د ملک يو شمير زيات سياسيون لا اوس هم هماغه زړي کنجاړي ژوي، او د هغو زړو بدبختيو نه ځانونه نشی خلاصولې.  ځوک د ببرک کارمل، ځوک د عثمان لنډی، او ځوک هم د فيضانې په صفتونو ځوک د امين او ځوک هم لا د ترکې په صفتونو کی د نورو سره په جګړو اخته دي.  د دوي سياسی بصيرت دومره تر وريځو لاندی شوی، چې د واقيعيتونو تشخيص ور ته نا ممکن شوی، او د ملک د حالاتو د تحليل په اړه دومره نيمګړي دی چې لا تر اوسه هم دوي پدی نه پوهيږی، چې اول د دی ملک نجات يو اصل دی نه د سياسی مباری تيوريکې نوعيت.  دا خلک هم د افغانستان د خلکو د روا مبارزی هغه نا پيژندل شوي دښمنان دي چې زمونږ د مقاومت او مبارزی لاره يی راشنډه کړی ده.  زمونږ غوښتنه د دوي نه دا ده چې راځې پدی وخت کی په ګډه د يوه توانمند ملې حزب په جوړولو سره يو ځل دا ملک د دغو سياسی بحرانونو نه را خلاص کړو بيا به  د ديموکراسی لپاره د يوه محيط په لرلو سره هر نوعه اډيالوژيکی مبارزو ته را ته لاره خلاصه شی.   نو که د افغانستان هر سياسی شخصيت اوس د يوه توانمند ملې حزب  د جوړولو نه بغير په بله هره لاره اخته وی، هغه هم د افغانستان د هماغو نه پيژندل شوو دښمنانو نه يو ډشمن دی، چې په وړاندی يی مبارزه کول تر بل هر چا لازمی شرط دی.

افغانانو!  د افغنستان جګړه ډيره درنه، ژوره، څو اړخيزه او ډيره مغلقه ده.  پدی مرحله کی د تضادونو درست پيژندل، او د عمده تضاد تشخيصول د مبارزی جوهر تشکيولوی. اوس د تضادونو سمه رهبری کول ډيری هوښياری ته ضرورت لری.  د خپل هيواد د مسايلو په اړه بايد ډير دقيق و اوسو او پرينږدو چې زمونږ توجه يوازی هغه دوو پيژندل شوو دښمنانو ته دومره مونږ لا خبره کړی چې د سنګر دننه دښمنان مونږ لا نور هم بی وسی کړي.  د افغانانو لپاره د نجات يواځنې لار په هيواد کی د يوه اتوانمند با دسپلينه ملې حزب جوړول دی او بس.  د دی نه غير بله هره طرحه او پروګرام مونږ په غلطو او ناکامه لارو سر کوي، او دا د ښمن سره همکاری ده او بس.

داکتر تاج الدين ملت مل   د ميزان ۲۷، ۱۳۹۷ ل کال سانډياګو، کلفورنيا د شپې ۴ بجې

د افغانانو دوه نا پيژندل شوي خطرناک دښمنان وپژنئ!

Tajoddin_melatmal_de_afghanistano_doshmanaan.pdf